مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۰/۰۴

# د صدراعظم سیدنورمحمد شاه کندهاري

## له لقب (فوشنجي) څخه مراد پښین دئ

## (دوهمه برخه)

د پښین د ساداتو مشري له ډېر پخوا څخه د سید نورمحمد شاه د کورنۍ پر غاړه وه. امیر شیرعلیخان چي د لومړی وار د پاچهی پر تخت کښېنوست ، ددغي پاچهی په وروستي کال ۱۲۸۲هـ ق = ۱۸۶۵م ئې د یوه فرمان په ذریعه سید نورمحمد شاه د پښین د ساداتو مشر وټاکه او د پښین د" کلانتر" په توګه ئې مقرر کړ. په دغه تقرري فرمان کي ئې د" پښین" املاء د "پشین" په شکل کار کړې ده. او دا فرمان پر دې مسئله باندي" ګواه سلطانی" دئ چي له فوشنج څخه مراد "پښین" دئ ، نه د هرات فوشنج.

### د فرمان متن:

" حکم سرکار اشرف همایون والا شد اینکه:
عالیجاه عزت دستگاه سید نورمحمد شاه ولد سیادت پناه سید سلیمان شاه مرحوم که از ابا و اجداد معتبر و کلانتر و مِلک قوم خود و کل طوائف سادات پشین بود ، چونکه سید موصوف قابل و لایق میباشد لهذا از حضور لامع النور سرکار والا چنان مقرر گردید، که سیادت پناه موصوف بر منزلۀ سابقۀ کلانتر و مِلک قوم سادات پشین باشد، و لازم که جملہ سادات اکابر پشین و مقیمان اطراف قندهار سید موصوف را کلانتر خود دانسته و از امر و صلاح مشار الیه تجاوز و انحراف نورزند، که جمیع خیر و شر دیوانی سادات تعلق به سید موصوف دارد و تخلف و انحراف از امر و صلاح کلانتر باعث نقصان کلی خواهد بود و علی الدوام سید موصوف ساعی و متوجه خیراندیشی قوم سادات باشند، از ایشان تماماً پاس اعزاز و اکرام کلانی بجا آورده بی اتفاقی نورزند. تاکید دانید.
تحریر ۲۹ ربیع الثانی سنه ۱۲۸۲ هـ ( محل مهر امیر شیر علیخان)".

په دغه کال د امیر شیرعلیخان او دده د وروړ سردار محمد امین جان ترمنځ د کجباز په سیمه کي خونړۍ جګړه پېښه سوه او په هغې کي د امیر زوی محمد علی جان او وروړ ئې سردار محمد امین دواړه ووژل سول او تر جګړې یو کال وروسته د امارت مقام سردار محمد افضل خان ته ورسېد. دوه کاله وروسته د امیر شیر علیخان د دوهم وار سلطنت پر وخت نوموړی سید نور محمد شاه د صدراعظم ( لوی مختار) په توګه مقرر سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سردار محمد امین خان د خپل پلار امیر دوست محمد خان تر وفات وروسته د کندهار مستقل واکمن وو. دده د واکمنۍ په وخت کي هم سید نورمحمد شاه د پښین د مشر په توګه منل سوی وو. په یوه فرمان کي چي د سردار محمد امین خان په مُهر د سید نورمحمد شاه په نامه صادر سوی دئ، له ده څخه غوښتل سوي دي چي د پښین یو یاغي شخص ملک کطون[۱] ژر تر ژره ګرفتار کړي.

## د فرمان متن:

" سیادت پناه سید نورمحمد شاه بسلامت باشند.
بعد آنکه کاغذ شما رسید احوال دانسته شد، باید که بهر صورت که بتوانید ملک کطون را بدست بیارید که بخوبی بازخواست شود. باقی خود شما بزودی بیایید که تدارک رفتن شما را بکنیم که بخیر شما بروید، که وقت میګذرد و هوا روزمره سرد میشود. و یک کاغذ بنام ملِک های ترین نوشته فرستادیم وسلام. ( مهر محمد امین ۱۲۷۸ بر پشت مکتوب)"

دا فرمانونه د سید نورمحمد شاه کندهاري په کورنۍ کي د سید عبداللطیف اغا سره خوندي ول او علامه عبدالحي حبیبي ته ئي د استفادې له پاره سپارلي ول. علامه مرحوم دغه اسناد یو پنځوس کاله پخوا یعني د ۱۳۴۸ش کال د آریانا مجلې په درو ګڼو کي له تبصرو سره خپاره کړي دي.
په دې فرمان کي د ترینانو د ملکانو په نامه د یوه لیک یادونه هم سوې ده. ترینان د پښین د شاوخوا اوسېدونکي دي او د هرات په فوشنج کي د اوسېدلو سابقه نه لري. دغه راز د سردار محمد امین خان د واکمنۍ په قلمرو کي هرات شامل نه وو او ده په هرات کي د کوم چا د ګرفتارولو واک نه درلود. پښین چي په کندهار کي شامل وو، ځکه نو دده د واکمنۍ یوه برخه وه او دده حکم پر چلېدی.
د سردار محمد امین خان په یوه بل فرمان کي چي د کندهار د" حکام او سر رشته داران" په نامه صادر سوی دئ ،په هغه کي د کندهار په ښار او مربوطاتو کي ئي د سید نورمحمد شاه جایداد تعین سوی دئ او مالیه ئي معاف سوې ده. په فرمان کي داسي راغلي دي:

" حکم سرکار همایون والا شد آنکه:
حکام و سررشته داران قندهار بالطاف شهریاری مسرور بوده بدانند، که در خصوص جایګیر عالیجاه عزت دستګاه سیادت پناه سید نورمحمد شاه مرقوم میشود... و یک قطعه زمین خشکابهٔ پورشاه واقع محال پشنګ که از سنوات سابقه معاف و خارج جمع بود و یک قطعه زمین لوره زرخریدسیادت پناه موصوف تخمیناً صد جریب شصت در شصت قریب چمن زیارت شینغزی معه یک دهنهٔ نهر پاتاب نیز از حضور انور در بهرهٔ مشار الیه معاف و خارج جمع شد.... تحریر بتاریخ ۲۴ شهر محرم الحرام ۱۲۷۹ ..."

په دې فرمان کي راغلي نومونه ټول د کندهار اړوندي سیمي دي:

پشنګ: مراد ئي پښین دئ چي دلایل ئي تاسي پورته ولوستل. که له پشنګ څخه مراد د هرات فوشنج وي، نو محمد امین خان به څرنګه د خپل حاکمیت تر قلمرو دباندي مځکو مالیه معاف کولای؟

لوره = لوړه: د کندهار ښار په جنوب او ختیځ کي د ترنک رود د پاسه د اوبو مجرا ته ویل کېدله. اوس هم دغه نوم او ځای سته.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

شین غزی: په دغه نامه د کندهار ښار په جنوب ختیځ کې یو زیارت دئ چې وایي د مشهور صحابي ایوب انصاري ورور وو. دغه زیارت ته له ښکاپر دروازې څخه یوه لار غځېدلې وه چې د کندهار د عمومي مسلخ ( سلاخانه) او هندو سوز ځنګ ته تېرېدله او پر زیارت باندې پای ته رسېدله. دغه زیارت یوه نسبتاً غټه تکیه درلوده او د زیارت ختیځ ته یوه پخوانۍ غونډۍ وه چې شاوخوا ئې د اوبو چمنان را تاو سوي ول. په دغو چمنانو کې ما (هوتک) د هېلیو ډېر ښکارونه کړي دي. د شین غزي زیارت ختیځ ته یوه لار وتلې وه چې کلچابات ته رسېدله.د شین غزي زیارت شمال ختیځ ته د لوی بالاکرز کلی پروت وو.
دغه سیمه چې پخوا د اوبو چمنونه او نیزارونه او یوه برخه ئې کروندې وې، اوس د استوګنې سیمه ده او ډېر پاخه کانګریټي کورونه پکښې جوړ سوي دي.

پاتاو: هغه لوی کانال وو چې د ښار له مرکز څخه تېرېدی او دکندهار د احمدشاهي ښار تر ودانېدلو پخوا کیندل سوی وو.
له دغو څېړنو څخه په پوره ډول څرګندېږي چې د هرات له فوشنج سره د سید نورمحمد شاه صدراعظم تړل یوه تېروتنه ده.
سید عبداللطیف چې دغه اسناد ئې د زماني له آفاتو څخه خوندي ساتلي ول، د هغو خانداني شجرو له مخې چې زما (هوتک) سره سته، د سید عبدالرسول زوی د سید محمدشاه لمسی او د سیدنورمحمد شاه صدراعظم کړوسی وو او په کندهار ښار کې اوسېده . د سید عبداللطیف دوه زامن سید عبدالرؤف او سید عبدالودود پاته سوي دي . سید عبدالرؤف ئې وفات سوی دئ.
ماته ویل سوي دي چې د حامد کرزي د ریاست جمهوري ریاست د سر په کلونو کې ( ۱۳۸۲ش) چې ګل اغا شیرزوی د کندهار والي وو، په ولایت کې د اصلاحي شورا په نامه یو تشکیل منځ ته راغلی وو چې د ولایت د اوسېدونکو حقوقي دعوې به ئې څېړلې. دغې شورا ته د سید نور محمد شاه د کورنۍ یوه غړي چې غالباً به سید عبدالودود وو، د خپلو جایدادو پر سر له کوم چا سره د دعوې موضوع وړاندې کړې وه. زما راوي ویل چې دغه عارض هغه اسناد په لاس کې لرل چې کاپي او متن ئې علامه حبیبي مرحوم په آریانا مجله کې خپاره کړي ول.

(نوربیا)
آشاوا ـ کاناډا
۴مه د اکتوبر ۲۰۲۰ع

---

(۱) د علامه حبیبي له یاداښت سره سم د کطون نوم باید کتون = کتان وي. په قبایلي سیمو کې د کتان، کوتان، کتون نومونه رواج لري. د حاجي کوتان اکا په نامه یو خوک ما (هوتک) پېژاند چې د کندهار په ښار کې ئې د لیلامي مالونو سوداګري کوله. اصلاً د رېګ اوسېدونکی وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ